بسم الله الرحمن الرحيم

**د ۱۴۳۸یا ۲۰۱۷ کال د کوچني اختر په مناسبت د خپلې انترنتي پاڼې لیدونکو ته د اسلام د ستر عالم او د حزب التحریر د امیر شیخ عطا بن خلیل ابورشته پیغام**




ژباړه

ثنا او صفت د وي د عالمیانو پر پالونکي او درود او سلام د وي د رسول الله صل الله علیه وسلم پر کورنۍ او اصحابو.

مسلمه امت ته چې د الله سبحانه وتعالی په واسطه ورته کرامت ورکړل شوی او الله سبحانه وتعالی دوی ته په خطاب کې وایي:

**كُنْتُمْ خَيرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ]**

[آل عمران: 110]

***اوس په نړۍ کې هغه غوره ډلې تاسې یاست، چې د انسانانو د لارښوونې او اصلاح لپاره رامنځته شوی دی. تاسو ته د نیکی په کولو او د بدی په نه کولو امر کوي. پر الله ایمان راوړئ.***

ټولو مخلصو دعوتکوونکو ته چې د الله سبحانه وتعالی له لوري د اخلاص خاصیت ورته ډالۍ شوی. هغوی چې د حق خبرې کوي او نېک اعمال ترسره کوي الله سبحانه وتعالی یې په حق کې فرمایي:

**[وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ]**

*[فصلت: 33]*

***د چا خبره به د هغه چا له خبرې ښه غوره وي چې هغه د الله لور ته بلنه ورکړه ،نېک عمل يې ترسره کړ او ويې ويل چې زه مسلمان( او د الله د اوامرو منونکی) يم؟***

هغه چا ته چې دغه پاڼه په اخلاص او لېوالتيا سره ګوري او غواړي له ښېګڼو يې بريا او برکت لاسته راوړي، له الله سبحانه وتعالی ښه هغوی ته د لوی او عظيم اجر غوښتونکی يم.
تاسو ټولو ته د کوچني اختر مبارکي وايم او له الله سبحانه وتعالی څخه ټولو ته د طاعاتو او عباداتو، روژې، لمانځه او نېکو کارونو د قبلېدو دعا کوم او د الله سبحانه وتعالی له دربار څخه غواړم چې تاسو د هغو کسانو له ډلې حساب کړي چې په دې مياشت کې يې تر ټولو زيات فيض او برکت ترلاس کړی.
همداراز له الله سبحانه وتعالی څخه غواړم چې دا اختر د نړۍ د مسلامانانو لپاره د ښېرازۍ او اسوده ګۍ پيل شي او وکولی شو راتلونکی اختر د رعيه( د راشده خلافت د بيرق) او د لااله الله محمدالرسول الله تر ډال لاندې تېر کړو چې دا کار الله سبحانه تعالی ته ستونزمن نه دی.
در آخر، به شما سلام تقديم می کنم و برای آسايش شما به درگاه الله سبحانه و تعالی دعا می کنم. الله سبحانه و تعالی اعمال صالحه شما را قبول درگاهش گردانيده و شما را از همه ی بلا ها و مصيبت ها در امان خود داشته باشد.
په پای کې تاسو ته سلامونه وړاندې کوم او ستاسو د سوکالۍ لپاره د الله سبحانه وتعالی دربار ته دعا کوم. الله سبحانه وتعالی دې ستاسو نېک اعمال قبول کړي او تاسو دې له هرډول بلاو، کړاوونو او افتونو په امن کې وساتي.

**[فَاللَّهُ خَيرٌ حَافِظًا وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ]**

*[يوسف: 64]*

*الله ترټولو غوره ساتونکی دی او له ټولو مهربانو مهربان دی.*

**د اختر ماښام، د ۱۴۳۸ه ق د شوال مياشتې لومړی**
**د ۲۰۱۷ د جون مياشتې ۲۵ام**
**ستاسو وروو عطا بن خليل ابو رشته**
**د ۱۴۳۸ د شوال لومړی**
**د ۲۰۱۷ د جون ۲۴ام**